# اختلاجي ناروغی

Download from:aghalibrary.cm

# Epilepsy صرعه، میرګی

**Prepared by : Dr.Dost Mohammad Sahar**

# (صرعه)یامیرګی Epilepsy

تعریف:- Epilepsyعبارت دهغی ناروغی څخه دی کوم چی دناروغ دمغزوپه قشری برخه کی یوغیرنورمال برقي دسچارج پیدا اوناروغ ته حرکي،حسي،روحي اواتونومیک تشوشات پیداکیږي.
Seizureبیا که چیری په دماغ کی غیرنورمال برقی عکسات رامنځته سی او د دماغی اختلاج سبب وګرځی Seizure بلل کیږی .په مقرر ډول سره د اختلاجاتو منځته راتګ ته میرګی ویل کیږی.

Download from:aghalibrary.cm

# اتیولوژی یا اسباب

**نامعلوم صرعه:** د ۲۰-۵ کلنو په منځ کی رامنځته کیږی کوم وصفی سبب نلری او نه هم بله neurologic abnormality موجوده وی.

**اعراضی صرعه:** په کوچنیانو کی د ولادی او perinatal injuriesله کبله رامنځته کیږی.

او دوهم ډول یی د Metabolic disorders څخه عبارت دی چی د الکولو د پریښودلو څخه رامنځته کیږی یا هم کیدای سی چی دا ډول د Drugد استعمال څخه رامنځته سی، uremia او hypoglycemia یا hyperglycemia

## ادامه.........................

په اسبابو کی ترضیض هم رول لری که په تیرو دوه کلنو کی یی ترضیض لیدلی وی باید فکر ورباندی وسی، تومور یا بل

Vascular diseases په Frontal ، Parietal یا هم Temporal Regions کی موجود وی

استحالوی ناروغی لکه Alzheimer's disease

او Infectious diseases لکه بکتریایی مینینجیټ، انسیفالیټ، سفلیس یا cerebral absses موجود وی باید په نظر کی یی ونیسو او په هر یوه باندی غور وکړو.

## پوښتنه : ایا دمیرګیو دوره (Epileptic Seizure) او تشنج (Fit) یوشی دی، که ترمنځ یی توپیر شتون لری ؟

**ځواب : هو !** موږ په ټولیز ډول دمیرګیو د دورو پر ځای ډیر د تشنج یا د لاس او پښو د کږیدو اصطلاحات کاروو. ځینی خلک دی ډول دورو ته له خپله ځانه هم نومونه ورکوی لکه بلیک او ټس، بلینکس او نور .

دا ټول اصطلاحات یوازی دیو ډول ځرنګوالی لپاره کارول کیږی، یانی دا داسی ځرنګوالی دی چی په کی نابېره بی کنټروله (بی واکه) غیرنورمال موضوعی برقی ډسچارج رامنځته کیږی، چی موږ ورته دنړیوال طبی معیار له مخی د (Seizure) لفظ کاروو، چی د دوری مانا لری.

Download from:aghalibrary.cm

**پوښتنه :** آیا د (Seizure) یوه حمله یا دوره د میرګیو مانا لرلای شی ؟

**ځواب :** د (Seizure) یوه دوره یا حمله دا مانا نه لری، چی شخص په میرګیو اخته دی، خوکله چی یو شخص دوه یا ډیری حملی ولری د میرګیو یا Epilepsy ګومان پری کیږی.

**پوښتنه :** آیا میرګی په هر ناروغ کی یو ډول دوری رامنځ ته کوی
**ځواب :** نه ! دوری څو ډولونه لری، چی دوه یی بنسټیز ډولونه دی،
چی دمکملو او جزوی دورو په نامه یادیږی .

## ۱ . مکملی دوری یا Generalized Seizures :


دا دوری هغه وخت رامنځ ته کیږی، چی کله غیر نورمال برقی ډسچارج د دماغ په دواړو برخو کی پیدا شی او ناروغ پر تشنجی ځرنګوالی اخته کوی .
مکملی دوری بیا په خپل وار سره پر شپږو نورو ډولونو ویشل شوی دی، چی موږ یی دروښانتیا لپاره په لاندی ډول یادوو .

# ۱ :حفف میرګی (Opetitmal) Absence Seizures:

1. په دی ځرنګوالی کی ناروغ د څه وخت لپاره (۵ تر ۲۰ سکنډو پوری) خپل حواس او هوښ دلاسه ورکوی .
2. دا دوری په ټولیز ډول څو ځلی دورځی په اوږدو کی رامنځ ته کیدلای شی.
3. د دی دوری په دوران کی د ناروغ سترګی Starring وضعیت لری.
4. شونډی یی غونجیږی او کله زبیښلو یا ژوولو په څیر حرکتونه لری.
5. که ناروع د خبرو کولو په جریان کی وی خبری پریږدی.

# ۲: عضلاتی تشنج Myoclonic Seizures

په دی دوره کی د بدن په هره برخه کی اختلاجی ( عضلاتی تشنجی ) څرانګوالی رامنځ ته کیږی، چی ډیره په پښو او لاسونو کی وی .
د دوری (عضلاتی تشنج ) وخت تر دوه سکینډو پوری وخت نسی.
دا دوری په ټولیز ډول د سهار د خوب څخه د پاڅیدو د پرمهال ډیری رامنځ ته کیږی .


Tonic phase
Clonic phase
© ADAM, Inc.

## ۳ Atonic Or Astatic Seizures :

د دی دوری پر مهال د ناروغ بدن ناببره شخیږی، ډیره ستړیا احساس کوی، چی ګرځیدل یا نور حرکتونه، نه شی تر سره کولای
.
په دی دوره کی ناروغ ښایی نابېره و لویږی، چی په پایله کی یی سر هم ډیر زخمی کیږی
ځکه چی همیشه یی سر د سختو شیانو سره ټکر کوی .
دا دوره په ټولیز ډول څو سیکنډه وخت نسی، چی وروسته تری عارضی عضلاتی تشنج هم رامنځ ته کیدلای شی .

# ۴: شدید تشنج Tonic Seizures

د دی دورو په دوران کی د بدن ټول غړی شخیږی او د شخوالی تر ځنګ شعور او حواس هم دلاسه ورکوی .
دا ډول دوری په ټولیز ډول د مغزو د شدیدو افتونو په پایله کی رامنځ ته کیږی، چی د دوری دوران یی ۱۰-۵ سګینډو پوری وخت په برکی نیسی

## ۵ Clonic Seizures :

په دی ډول دورو کی ناروغ د قوی یا شدید اختلاجی حالت سره مخ کيږی، چی په پوره بدن کی ورسره جټکی رامنځ ته کيږی، د دی دوری دوام لږ څه اوږد دی، د ۳۰ ثانيو نيولی آن تر دوه دقيقو پوری غزيدلای شی په ځينو ناروغانو کی بيا چی د لږ ډير وخت لپاره دا څرنګوالی شتون لری.

# ۶ tonic clonic seizures :


دی دور ته grand mal یا لوی میرګی (صرع کبیر) هم وایی .
د دی دوری پرمهال په لومړیو کی د شدید تشنج څرنګوالی رامنځ ته کیږی او وروسته په کی رجف تشنج راځی.
څه ډول چی په دی څرنګوالی کی شدید او اوږدوالی ډیر وی ځکه ورته د لویی دوری نوم ورکوو. دا دوری دیوی نه تر دریو دقیقو دوام کولای شی په ځینو وختونو کی د ۳۰ دقیقی یا له دینه ډیر وخت په برکی نیسی، چی بیا ورته status epilepticus وایی .

# جزوی دوری partial seizures :

دا دوری هغه وخت پیښیږی، چی کله غیر نورمال برقی ډسچارج د دماغ په نیمه کره کی رامنځ ته شی .
جزوی دوری په دوه ډولونو ویشل شوی دی، چی د ساده او complex دورو په نا مه یادیږی په complex parital seizures کی دشخص په هوښ کی بدلون راځی او یا هوښ دلاسه ورکوی او یا په کی خوبجن حالت غوره کوی.
په دی ډول حمله کی کیدای شی ، ناروغ ایرانوونکی تکراری حرکتونه، لکه د سترګو رپیدل، د عضلی دیوی برخی رپیدل او د خولی ځینی حرکتونه ولری.
دا ناروغان کیدای شی، ځینی شیان د کوټی څخه د باندی و غورځوی او پر دیوال، کړکۍ پرشیشه ګوزار (وار) ورکړی، لکه دی چی ویریدلی وی او یا غوسه وی، خو دغه حملی یوازی په یو څو ثانیو کی له منځه ځی .
دمیرګیو ځینی ناروغان کیدای شی وړاندی دحملی څخه aura تجربه کړی .

# :Aura

- یوه نا معموله خبرونه ده، چی شخص د پیښیدونکی حملی څخه خبروی، دا حقیقت کی simple paritle seizures دی ، چی ناروغ په کی هوښ دلاسه نه ورکوی.
دجزوی ( قسمی ) حملاتو یا partial seizures نښی په آسانۍ سره د نوروتشوشاتو سره غلطیږی دساری په ډول : هغه خوبولی حالت چی په complex partial seizuresکی وی ، کیدای شی دنیمه سرخوږی (migraine) سره په چی همدغه شان خوبولی حالت وی غلط شی.
هغه نا اشنا حرکتونه، چی په partial seizures کی وی کیدای شی دا روا یی ناروغیو سره غلط شی.


دوره
جزوي
مكملي
عمومی ثانوي
پیچلی Compl ex
ساده Simpl e
Tonic Clonic
Clonic
شدید تشنج
Atonic Astati c
غضلا تی تشنج
حفیف میرگی

# اعراض او علایم

غیروصفی تغیرات لکه سردرد، د مزاج تغیر، ستومانیا او اختلاجات په myoclonic ډول کی مخکی له دی چی دوره شروع سی جوتکی رامنځته کیږی،

# تشخيصيه ټکي

MRIهغه ناروغانو کی اجرا کيږی چی محراقی neurologic
symptomsیا focal seizures علایم ولری
او **ELECTROENCEPHALOGRAPHIC** په محراقی خرابوالی
کی کمک کوی
په لابراتوری او نورو څیړنو کیCBC ، د وینی شکره، کبدی او
کلیوی معاینات، سفلیس،
**نوټ:** هیماتولوژیکی او بیوشیمی څیړنی زموږ سره د علت په
پیداکولو کی کمک کوی.

# تداوي:

**اول: عمومي اهتمامات او تدابير:**

په عمومي اهتماماتو او تدابيرو کی د ډاکټر وظيفه داده چی ناروغ د بعدی حملاتو څخه وساتی او ناروغ دې ته اماده کړي چی د يو سالم شخص په صفت په ټولنه کی مسؤليت خپل ترسره کړی او همدی ترتيب ناروغ ته هدايت وکړی.

د ناروغ د دوباره حملاتو د ظهور د مخنيوی لپاره بايد ناروغ دې ته اماده کړی چی ځان د روحی فشار او بې خوبي څخه وساتی او په عمومي ډول روښنايي ته کتل، تلويزيون ته کتل او نا ارامه حوادثو څخه ځان وساتي.

## ادامه...........

همدارنګه ناروغ ته توصیه چی د هغو کارونو د اجرا څخه ځان وساتی کوم چی د اوبو په شاوخوا کي ترسره کيږی. دربوری په جګو ځايونو کی د وظيفې تر سره کول او د واده په اوله شپه کی بی خوبی پيدا کېدل د ناروغۍ د حملاتو د ظهور باعث ګرځی. اما خپله واده کول د ناروغۍ په مسير کی کوم مثبت او منفی اثر نلری.

**ادامه...........**

حمل او حامله داری د ناروغۍ د حملو خطرات زیاتوی، په ماشومانو کی د مرګی سیر هغه وخت خراب انزار لری کوم چی فامیلی تاریخچه موجوده وی اما که چیری کوم عضوی تکلیف د ناروغي سببی عامل وی نو په دې صورت کی د ناروغۍ انزار هم ښه دی په کمی اندازی سره سپورټ کول کوم معذرت ناروغ ته نه پیدا کوی اما شدید سپورټ کول مضر ثابتیږي.

# دوهم طبي تداوي:

د طبي تداوی څخه ږموږ دوه اساسی هدفونه:

۱- د اضافی برقی Discharge د پیداکیدو څخه مخنیوی کوي.

۲- نهی کول د Post Tatanic

په قسمی او ثانوی عمومی tonic-clonic seizures کی

د valproic acid یاcarbamazepine, phenytoin

phenobarbital یا primidone سره یو ځای ورکول کیږی

فقط دوی دواوی یو ځای ورکوو .

Gabapentin, topiramate, lamotrigine, oxcarbazepine, levetiracetam, او zonisamide نوی antiepileptic drugs

دی چی د زړو ځای یی نه دی نیولی

Download from:aghalibrary.cm